لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۱/۰۱

# لویه تلوسه

## شپږمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

### د هلسینکي قوانین(۱۹۶۶) (۸ )

**د ۱۹۹۷ کنواسیون**

په ۱۹۹۷ کنوانسیون کې «یوشاني او منطقي ګډه پورته کول» هلسنګي قانون سره ورته دی چې د لاندې ۷ لاملونو په اساس تعریفیږي:

۱ - د شریکو سیندونو طبیعي بڼې (جغرافیې، اقلیم ، هایدرولوژی او نور)
۲ - د ګډ پولېز سیند غاړې حقابه ورونکو هیوادونو اقتصادي – ټولنیزي اړتیاوې؛
۳ - په دواړو هیوادونو کې شریکو اوبو سره تړلی جمعیت؛
۴ - د یوه هیواد له رودونوڅخه د ګټې اخیستو اغیز د نورو هیواد پر رود باندې ؛
۵ - هر هیواد له خوا سیند څخه اوسنۍ ګټه اخیستنه او د ګټې اخیستې پوتنشیل؛
۶ - د رود د اوبیزی سرچینې ساتنه، پاملرنه او پراختیا او په دغو مواردو کې ترسره شوي لګښتونه؛
۷ - ځانګړو طرحو او اوسنۍ ګټه اخیستنې لپاره بدیلی طرحې ته لاسرسَی

ځینې وختونه د رسمي عدالت غوښتنې او عدالت ته د رسیدنې بهیر یوازې د ځانګړو بنسټونو له لارې چې د نړیوال قانون چمتو کوونکي دي او یا د قانون تفسیر او د هغه اجراکول په غاړه لري ترسره کیږي. بیلګې په توګه په هاګو کې د عدالت بین المللي محکمه(ICJ) یوازې د قانون ځانګړو مواردو ته رسیدګي کوي او عرف سره څه کار نلري او دعوا کې، د ښکیلو هیوادونو په رضایت او پرته له هر ډول عملي اجبار، دعوې ته رسیدګي کوي. پدې برخه کې هغه هیواد چې خپلو ملي ګټو سره تړلی دَی کولای شي د یوې محکمې ټول قضاوت او مالومات و نه مني.( په پام کې و نه نیسي )

**د برلین قوانین (۲۰۰۴)**

د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کې د ILA نړیوالو قوانینو ټولنه دې نتیجې ته ورسیده چې هغه اصول او متفرقه مقررات، چې په بیلابیلو کنفرانسونو کې او په بیلابیلو هیوادونو کې د تېرو کلونو په لړ کې، انجمن له خوا تصویب شوي دي ډېر ګډوډ او پاشلي دي او د یوې منسجمې مجموعې په بڼه د هیوادونو په واک او لاسرسی کې نه دي. لدې امله د دوو یا څو هیوادونو ترمنځ له ګډو نړیوالو سیندونو او حوضو څخه د ګټې اخیستو په اړه د ټولنې مصوبې تصویب ، « له ۱۹۶۶ تر ۱۹۹۹ پورې نړیوالو سیندونو په اړه د ټولنې تصویب شوي قوانین او مقرراتو ټولګې» په نوم په یوې ټولګه کې ، په ایټالیا کې، د ټولنې په ۱۹۹۹ اجلاس کې نهایي شو. د قوانینو دغه ټولګه چې بیا وروسته د کتاب په بڼه خپور شوی دَی ۶۷ اصلونه او دوې ضمیمې لري.

لومړی ملیانه ( ضمیمه) د اوبو د سرچینو یوې نویوالی ټولنې تاسیسیدو په اړه او دوهمه ضمیمه یې «د اختلافونو او شخړو هواری» په هکله ده. د نړیوالی(پولو اخوا – تیرېدونکي) رودونو د قوانینو او مقرراتو د ټولګې چاپ او خپرېدو په دوام، ټولنې پریکړه وکړه د هلسنګي(۱۹۶۶ ) په قوانینو د نویو قوانینو په ورزیاتولولو سره، دغه قوانین ورځچاریز کړي او په نړیوالو قضایي مراجعو کې کارولو لپاره یې چمتو کړي. په ۲۰۰۴ کال کې په برلین کې د ټولنې په ناسته کې د قوانینو او د هغوی د نویو اضافاتو ورځچاریزولو وروستی ریوټ ، وروستي تصویب ته ورسید. دغه مصوبه « د۲۰۰۴ برلین قوانین» په نوم شهرت ترلاسه کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاز والي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

د برلین قوانین د « یوشانی او منطقي ګټي اخیستو» پرمختللی اصل رانغاړي چې د هلسنګي په قوانینو کې هم ورته اشاره شوې ده .د هلسنګي قانون او د برلین قانون دواړه د بین الملل د حقوقپوهانو د پاملرنې وړ ګرځيدلی دَی . دې سره سره د بین الملل د رودونو د اوبو پر سر د بین الملل دعواو طرحي په زیاتو مواردو کې هلسنګي قوانینو ته د بین الملل د عرفی قوانینو په عنوان مراجعه شوې او حکمونه د هغه پر بنا صادر شوي دي.

| |
|---|
| ایران دولت د ۱۹۹۷ کنوانسیون نه دی لاسلیک کړی ( د دې کتاب د چاپېدو تر مهاله)<br>لومړی پېروزينه دا دی چې ایران اسلامي جمهوري د ۱۹۹۷ کنوانسیون سره یو ځای شي. کنوانسیون سره پیوستون ځان سره په اوږدمهاله کې ایران لپاره ګټي لري چې له اوسنیو لنډمهاله ګټو زیاتي دي. په هر صورت، کنوانسیون سره نه پیوستون او د هغه نه لاسلیکول د هغه د قانوني موادو له روح سره، په تېره بیا نړیوالو اړیکو پراختیا سره اړوند موادو او اوبلارو او له اوبو سمي ګټي اخیستني او ساتني سره، د مخالفت په مانا ندي. البته کنوانسیون سره پیوستون ځان سره یو لړ ګټي لري چې ډېره غوره یې له نړیوالو مالي سرچینو څخه ګټه اخیستل او جذبول دي.<br>کنوانسیون سره په پیوستون کې د ایران، افغانستان او ترکمنستان دولتونه کولای شي لکه د نورو برخو په څېر په هریرود کې خپلې پراختیايي همکاريګانې پیل کړي. خوغوره دا دی چې د ایران اسلامي جمهوري له کنوانسیون سره یو ځای (ملحق) شي. |

تر ۲۰۱۱ کال پورې په نړی کې د ګډپولیزه اوبو پر سر ۳۵۰ قراردادونه شتون لري. پردې سربیره له ۲۰۰۰ څخه په زیاتو نړیوال قراردادونو کې پولیزو سیندونو او اوبو ته مستقیمې اشارې شوې دي.

د شریکو اوبو په تړاو د ځینو ګډ پولیزو(منځ پولیزو) قراردادونو نوملړ

| د اصلي یا فرعي حوضي نوم | د تړون( قرارداد) هیوادونه او نیټه | د قرارداد(تړون) عنوان | د اوبو د وېشلو طريقه |
|---|---|---|---|
| د ایران او عراق پولېزې اوبه | ایران عراق ۲۶ /۱۲/ ۱۳۶۴/ | له ګډو پولېزو اوبو د ګټي اخېستو په باب د ایران او عراق هوکړه لیک | د برابرې ونډې خواوی |
| د فرات سیند | عراق کویټ ۱۱ /۲/ ۱۹۶۴/ | کویټ ته د خوړو اوبو برابرولو په برخه کې د عراق او کویټ هوکړه لیک | عراق هوکړه کړې هره ورځ ۱۲۰ ملیونه ګیلن(ګیلن= ۳/۶ لیتر) خوړې اوبه په وړیا کویټ ته ورسوي. که کویټ ډېرو اوبو ته اړتیا درلوده موضوع به د طرحه کولو وړ وي. |
| ارس - اترک | ایران – شوروی /۱۱ /۸ ۱۹۵۷ | د اوبو لګوني او د برېښنا د برابروني په موخه د ارس اترک پولېزو اوبو څخه د کار اخیستو په هکله د ایران او پخواني شوروي هوکړه | د دوو سیندونو په ګډو برخو کې د اوبو او انرژۍ<br>د زیرمي د ټول پوټنشیل ۵۰ ٪ هر هیواد ته رسیږي. |
| د Ili او Horgos رود | چین او روسیه ۱۲ /۶ /۱۹۱۵ | دHorgos رود په اوږدو کې د پولې ټاکلو په هکله د چین او روسیې تر منځ پروتوکول | د سیند پاسني برخی ته لاسرسي: د چین څارونکی پایګاه ته د لومړیتوب حق؛<br>کوزنی برخی ته لاسرسي: لورو لپاره په برابره توګه د موجودو او نورو کانالونو د لومړیتوب حق |
| د لویدیز ساحل او غزی ځمکلاندی ګډې اوبه | اسراییل - فلسطین | د اسراییل او فلسطین ترمنځ هوکړه | د جمعیت او لګښت بیلګه/ الګو:<br>اسراییل د فلسطین د اوبو حق په رسمیت پېژني. هرکال کې ۶ / ۲۸ ملیون متر مکعب اوبه او د فلسطین د راتلونکو اړتیاو پر اساس دی دغه مقدار په هر کال کې |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | ۷۰ او ۸۰ ملیون متر مکعب ته ورسیږي |
| دسند سیند(رود) | هند-پاکستان او نړیوال بانک | د سند سیند د اوبو قرارداد | د سیند جغرافیه یی وېش : د هند څانګه(ښاخ) لویدیزه څانګه، د پاکستان څانګه |
| د اردن او یارموک سیندونه | اردن - سوریه | یارموک اوبو څخه ګټي اخیستو په هکله د سوریې جمهوریت او د اردن هاشمي پادشاهي ترمنځ هوکړه | بند ورغول شي او په ثانیه کي کم له کم ۱۰ متر مکعب اوبه اردن ته تضمین شي. دغه مقدار د رود د طبیعي جریان له اتو بې اوه جوړوي.<br>سوریه به د بند او د ۲۵۰ متره لوړي لیکي تر منځ په ۳ مه درجه څانګو کي له خپلو حقوقو څخه تیریږي. خو د اوبو برېښنا د انرژي ۷۵ ٪ به ترلاسه کړي. |

د شریکو اوبو په تړاو د ګډ پولیزو (منځ پولیزو) ځینو قراردادونو نوملړ

| د اصلی یا فرعي حوضي نوم | دقرارداد(تړون) هیوادونه او نیټه | د قرارداد عنوان | د اوبو د وېشلو طریقه |
|---|---|---|---|
| د اردن سیند | اردن، اسراییل او سوریه د هیوادونه نهایی کیدو نیټه: ۱/۱ / ۱۹۵۶ | د جانسټون هوکړه | د اردن رود تخصیص به په حوضه کي د خړوبونی وړ ځمکو د مطالعاتو پر اساس وي. اسراییل ۳۱ سلنه ، اردن ۵۶ سلنه، لبنان ۳ سلنه او سوریه ۱۰ سلنه |
| اردن یارموک شریک اَکیفرونه | اسراییل اردن | د اسراییل او اردن هاشمی هیوادونو ترمنځ د سولی قرارداد | له یارموک او اردن سیند څخه تخصیصات دګډي پراختیا پروژو سره په تړاو کي د جانسټون د هوکړی پر اساس شوي دي. ګډو ځمکلاندی اوبو څخه ګټي اخیستنه د هر هیواد د مخکیتوب پراساس دي. |
| نیل سیند | مصر سودان | د مصر دولت او د سودان ترمنځ هوکړه لیک | معوقه حقوق: (غوښتل شوي اوبرخي) د رود طبیعي بهیر لپاره سربیره پر هغو ګټو چي اسوان بند څخه حاصلیږي له راتلونکو پروژو څخه اوبه د جمعیت پر اساس، ۱۴ په نسبت مصر ته ۷/۵ سودان ته. اړوند تادیه شوي لګښتونه په برابره بنه وېشل کیږي |

پر پاسنیو مواردو سربیره نور تړونونه هم په لاندې ترتیب دي:

## نور بیا

**الف – د ګډو اوبو په برخه کي د نړی د هیوادونو ګډ پولیز( دګډي پولی) تړون:**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ